پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۵/۱۱/۲۴

# یوه کلیزه، دوې خاطرې

## د استاد پوهاند میرحسین شاه خان نویمه کلیزه

د لمانځلو او یادولو په برخه کې پخوا داسي دود و چي یوازې به د مړو لیکوالو، شاعرانو، استادانو، مشاهیرو او قلموالو له پاره غونډې جوړيدې، بیا د ځینو فرهنگیانو په نوښت، د اویایمي لسیزې په وروستیو کې داسي هم وشول چي د ژوندیو لمانځل او درناوی هم د یوه بدعت په ډول پیل شو. بنایي په کابل پوهنتون کې د استاد رشاد د اویایمي کلیزې جوړول او لمانځل یې یوه غوره بیلگه وي.

او دا دی اوس د نورو ژوندیو فرهنگي شخصیتونو د لمانځلو په لړ کې بیا هم په کابل پوهنتون کې د دانشمند استاد پوهاند میر حسین شاه نوویمه بختوره کلیزه، د ده د علمي لارې د ځایناستو، شاگردانو، ارادتمندانو او لارویانو له خوا د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۲۱مه نیټه ولمانځل شوه.

پوهاند میر حسین شاه ښه استاد، ځیرک څیړونکی، دقیق ژباړن او د وخت د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کې د منځنیو پیړیو د تاریخ په تدریس کې غښتلی او د اعتبار وړ آدرس و او په علمي دوایرو کې ښه اداره چي ثابت شوی دی. که چیرې د پوهاند میر حسین شاه اکادیمیک ژوند او اداري کار په دقیق ډول مطالعه شي، لیدل کیږي چي کومه وظیفه چي د خلکو، ټولني او وطن له خوا ده ته سپارل شوې وه، هغه یې په عالمانه، صادقانه او ریښتیني توگه د خپل تدریس، څیړني، تالیف، ژباړې او اداري کار په ترڅ کې د یوه زړه زړه سواندي استاد په توگه تر سره کړې ده.

زه مخامخ د شاگرد په توگه کله د استاد پوهاند میرحسین شاه لکچر ته په ټولگي کې نه یم ناست، خو په هغو کسانو کې شمیرل کیږم چي د ده له لیکلو علمي آثارو نه مې ډیره استفاده کړې ده او په سیمینارونو او کنفرانسونو کې یې لکچرونو ته ناست یم.

دا مې له خپلو استادانو نه چي د ده مستقیم شاگردان وو، اوریدلي دي چي دی یو زړه سواندی عالم استاد و. پوهاند میر حسین شاه ته د چا ژبه، ولایت، قوم، مذهب، ولایت او نور تعلقات اصلاً مطرح او مهم نه وو، یوازینی شی چي ده به په نظر کې نیول هغه د شاگر استعداد و، په هر چا کې به یې چي ډیر لږ استعداد هم وموند، هغه به یې کار ته او لوړو زدکړو ته او د علم لاس ته راوړلو ته هڅاوه.

یوه ډیره ښه بیلگه یې د کابل پوهنتون استاد نورمحمد غمجن و. کله چي استاد غمجن موږ ته د لیسانس په دوره کې د حمید منتخبات او د روښانیانو د دوري متون تشریح کول، داسي به مستند او په ډاډ سره غریده لکه له هماغه ځای او پیښي نه چي راغلی وی .

نورمحمد غمجن تمیل د لغمان نه راغلی یو ساده بې کسه، بې واسطې زلمی و چي پوهاند میر حسین شاه خان هیڅ ډول سمتي، قومي، مذهبي تعلقات نه ورسره درلودل. حتی د دوی مورنی ژبه لا یوه نه وه، نورمحمد غمجن په قوم پشه اي او مورنی ژبه یې هم پشه اي وه او استاد میر حسین شاه له کندهاره راغلی و.

دا د استاد صابر خویشکي د خولې خبره ده: «کله چي استاد پوهاند میر حسین شاه د نورمحمد غمجن استعداد، له علم سره مینه او زحمت ته وکتل هغه یې هندوستان ته د لوړو زدکړو له پاره ولیږه.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د همدې زدکړو په پایله کې هغه استعداد چې پوهاند میر حسین شاه په هغه کې لیدلی و، غوټۍ یې وکړې، وغوړېد او غمجن زدکړې پای ته ورسولې. کله چې غمجن له لوړو زدکړو راستون شو، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي په علمي کدر کې جذب شو او داسې استاد او څېړونکی ور نه جوړ شو چې کم ساری و.

د استاد پوهاند میر حسین شاه د علمي دریځ یوه بله خاطره چې شخصاً په ما پورې اړه لري او هیڅکله به مې هېره هم نه شي، د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره زما د علمي ترفیع له پاره زما پر وړاندې شوې اثر باندې د کابل پوهنتون په علمي شورا کې د پوهاند میر حسین شاه علمي دریځ و.

کله چې زه د ۱۳۶۰کال په ژمي کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په علمي کدر کې ومنل شوم، تر هغه وخته پورې مې له استاد پوهاند میر حسین شاه خان سره مخامخ پېژندګلوی لا نه وه شوې، خو د نه پېژندنې په نړۍ کې یې زما د یوه علمي اثر په برخه کې یو عالمانه او دلسوزانه برخورد کړی و چې تر اوسه یې هم زه د علمي احسان پوروړی یم.

د ۱۳۶۴ کال په نیمایي کې ما د پوهنیارۍ علمي رتبې ته د لوړېدو له پاره خپل علمي اثر(شعر د پښتو کلاسیکو شاعرانو له نظره) د استاد پوهندوی جلالدین کونړي تر لارښوونې لاندې بشپړ کړ. د کابل پوهنتون له علمي مقرراتو سره سم زما لیکلی تحقیقي اثر د څانګې له علمي مجلس نه وروسته د پوهنځي علمي شورا ته او بیا له هغه ځای نه د پوهنتون علمي شورا ته ولېږل شو. د کابل پوهنتون په علمي شورا کې زما پرعلمي اثر باندې د بحث په لړ کې ځینوښاغلو زما له علمي اثر سره چې اصلاً یې له مسلک سره د یوه خلي په اندازه ارتباط هم نه درلود، مخالفت کړی و. مخکې له رای اخستلو نه پوهاند صاحب میر حسین شاه خان هغو ښاغلو ته په خطاب کې ویلي وو:

«پرته له شکه چې هر اثر د ښېګڼو تر څنګ خپلې نیمګړتیاوې هم لري چې دا تر بحث لاندې اثر هم له هغو مستثنی نه دی، خو په همدې تیره غونډه کې مو داسې یوه اثر ته د پوهندویي ترفیع منظوره کړه چې له تر بحث لاندې اثر نه څو ځلې ضعیف ارزیابي کېدای شو، ولې دا اثر چې نیمګړتیاوې یې تر هغه اثر لږې او ناچیزه دي، د پوهنیارۍ مستحق نه ګڼئ؟»

د پوهاند صاحب میر حسین شاه خان دا علمي زړه سوی او روا داري نه یوازې پر ما، بلکې د وطن په ډېرو بچیانو باندې شوې ده.

د استاد پوهاند میر حسین شاه خان نویمه کلیزه دې بختوره وي. زه د استاد د علمي لارې د یوه لاروي او ارادتمند په توګه له ټولو هغو ښاغلو نه چې د داسې یوه علمي شخصیت د یادونې او کلیزې د لمانځلو تکل او هڅه یې کړې ده، د زړه له کومې مننه کوم او استاد پوهاند میر حسین شاه خان ته اوږد پُر ثمره ژوند غواړم او هیله کوم چې د ژوندیو حقداره پوهانو او فرهنګیانو د لمانځلو دود عام شي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ